DETROIT PUBLIC SCHOOLS COMMUNITY DISTRICT
Students Rise. We All Rise.

# د ډیټرویټ د دولتي ښوونځیو سیمه ایزه اتحادیه
## د ساحوی سفر لپاره د زده کوونکي پرېښودل او د والدینو اجازه لیک

د زده کوونکي نوم: ______________________________ ټولګی: ____________

ښوونځی: ______________________________

د سفر یا فعالیت نیټه: ____________ د وتلو وخت: ____________ د بیرته راستنیدو وخت: ____________

منزل: ______________________________

د ساحوي سفر/فعالیت تفصیل: ______________________________

**مهرباني وکړئ ويي ليکئ**

زه، د پورته ذکر شوي زده کوونکي د والدین/سرپرست په توګه خپل ماشوم ته اجازه ورکوم چې د ښوونځي له لوري په تمویل شوي ساحوي سفر او/یا فعالیت کې برخه واخلي.

زه منم چې زما زوی/لور به مکلف وي چې د ډیټرویټ د دولتي ښوونځیو په سیمه ایزه اتحادیه کې د زده کوونکو د حقوقو او مسؤلیتونو له مخې د ښوونځي اړوند ټولو مقرراتو او طرزالعملونو ته غاړه کیږدي (یعني "د زده کوونکي د چلند اړوند قوانین").

زه منم چې په دې فعالیت یا په دې ساحوي سفر کې کې زما د ماشوم ګډون ښایي ځینې اساسي خطرونه هم له ځان سره ولري. په یادو خطرونو کې، د غاړې، د ملا د تیر، هډوکي، جدي ټپونو یا د نورو فزیکي معلولیتونو رامنځته کېدل شامل دي، چې یوازې تر دې هم محدود نه دي. زه په یاد ساحوي سفر کې د خپل ماشوم د حضور او ګډون په اړه د احتمالي پیښېدونکو خطرونو څخه په بشپړ ډول خبر یم. زما د ماشوم ګډون په خپله خوښه دی، او زه په همدې توګه تاکید کوم چې په زما د بشپړې پوهاوي له مخې دا ډول خطرونه پر غاړه اخلم.

د ماشوم د پرېښودلو او د اجازه لیک په پلي کولو او دلته د بیان شوي اجازې په ورکولو سره، زه، د خپل ځان، وارثانو، شخصي استازو او / یا ټاکل شویو اشخاصو لپاره، د ډیټرویټ د دولتي ښوونځي سیمه ایزه اتحادیه او اړوند افسران، رییسان، استازي، کارکونکي، د بورډ غړي له هر هغه مسؤلیت، زیانونو او ادعاوو یا نورو اړونده اقداماتو څخه بري او غیر مسؤل کنم چې په دې فعالیت او/یا ساحوي سفر کې زما د ماشوم د ګډون له امله رامنځ ته کیږي، البته په هغه صورت کې ادعا کولای شم چې د قانون له لوري اجازه ورکړل شوي وي. زه دا تړون په خپله خوښه او د اهمیت په اړه یې له بشپړ پوهاوي له مخې لاسلیک کوم او د خپل لاسلیک په واسطه دا اراده لرم چې د قانون له لوري تر محدودې شوي اجازې پورې به په غیر مشروط ډول د ټولو مسؤلیتونو د پرېښودلو اجازه ورکوم.

زه دا هم منم چې د ډیټرویټ د دولتي ښوونځیو سیمه ایزې اتحادیې ته د هر ډول هغه ادعاوو، اقداماتو، یا نورو قضایي اجرأتو، د وکیلانو د فیسونو په شمول د لګښتونو، مصارفو، زیانونو او مکلفیتونو د جبرانولو مسؤل یم چې یوازې او یوازې زما د ماشوم د غفلت، قصدي یا ناوړه چلند، او/یا د زده کوونکي د چلندي اصولو څخه د سرغړونې په صورت کې رامنځ ته شوي وي.

زه موافق یم چې د ښوونځي پر اساس اړونده مقرراتو ته غاړه ږدم او د زده کوونکو د چلند اړوند شرایطو ته هم غاړه ږدم. **(دواړه لاسلیکونه اړین دي.)**

| **د زده کوونکي لاسلیک** | **په مهرباني سره یې نوم په غټو تورو ولیکئ** | **نېټه** |
|---|---|---|

ما د سفر لپاره د ماشوم پرېښودل او اجازه لیک لوستی او د هغه په شرایطو پوه شوی یم. زه منم چې دغه اعلامیه په خپله خوښه لاسلیک کوم او د هغې په اهمیت پوره پوهېږم. زه په دې توګه خپل ماشوم ته اجازه ورکوم چې په دې ساحوي سفر او/یا فعالیت کې برخه واخلي.

| **د والدینو/سرپرست لاسلیک** | **په مهرباني سره یې نوم په غټو تورو ولیکئ** | **نېټه** |
|---|---|---|